پوهندوی دوکتورسید حسام «مل».

------------------------------

## په یو ځوقومی هیواد لکه افغانستان  کی یوښه اولسمشرلرونکی دکوموصفاتو «کرکتر» باید وی ؟

ددی سرلیک لاندی غواړم چي موضوع په هراړخیز بني سره د علمی او تحقیقی مقا لوپرماخذ و سره دګرانولوستونکو دپاره چمتو کړم  اوپه دی وجهه سره د محترمو لوستونکو د پوها وی په آبا سین کی  د خپل وسی سره  یو څو ځاځکی ورزیا ت کړم اوبیا په  ځا نګړی  توګه  سره د خپلو  وطنوالو د لړلید اودهغوی د پا ملرنی مخه دیو باکفا یت اولسمشردټاکلو په اړین  راواړوم  کوم چی په کال (۲۰۱۴) زمونږپه هیواد کی داولسمشری ټول ټاکنی تر سره کیږي. خبره زیا ت نه ا وږدوو  بلکه د موضوع په اسا سی  ټکو باندی په لاندی ډول سره پیل کوو:

یورهبریا لارښودهغه وخت دخپل اولس په نظر باکفا یت اود درنا وی وړ ښکا ری چی هغه یو پیا وړی اومتعهد کس وی چی دا پخپله د یو ښه رهبر له دری هغه  اساسی عناصرو څخه یو ځانګړی عنصر بلل کیږي ، دا مو باید په یاد کی وساتوچي په یوه ټولنه کی ډیر داسی اشخاص را پیداکیږي چی دهغو  فضایل  ، اوصفا ت اوښیګڼی ناڅرګند پا تی کیږی  اویا  دا چي د خنو  افرادو کرکتر ناسم  اوپه خطا سره تعریف اوتوصیف کیږی  او یا د اچي  ډیر  قلم  په لاس خلکو د خنو هغو افرادو  څخه چی اصلاْ په هغو کی دفضایلو اود  ښیګڼو نښی اونښانی هم نه لیدل کیږی په ډیر اغراق آمیز بنی سره دهغه څخه تعریف اوتوصیف کوی یا  داچي د ډیرو باکرکترو او دعلم د خا وندانو  د شخصیت په ترور کی له هیڅ هلی ځلی څخه لاس نه په سرکوی .

د یورهیر په ارزیا بی اوڅیړنو کی کوم چی دیوټولنی ، سازمان ، یا دهیواد په هره سطح او موقف کی قرار ولری  با ید چی  هرومرو د دی دری لاند نی سوالونو  ځواب تر لاسه کړو:


لمړي – هغه  څوک  چی  غواړی  رهبر او یا اولسمشر  شی ا یا  هغه درهبری اودمشرتوب وړتیا او صلاحیت لری ؟ ایا هغه د کا فی پوهی

او علم ښخه برخوردار دی کوم چی وکولای شی کلیدی مفاهیم ، واقیعتونه ،حقایق او هغه اړیکی کوم چی دهغه ددندی په اجراتو کی اړین بریښی هغه درک کړی یا پر هغو باندی وپوهیږي ؟

دوهم :آیا هغه څوک چی غواړی رهبر او اولسمشر شی داتعهد اوسرسپرد کی لري یا ددی چمتو والی لری چی درهبری د سختو دند و دعهدی ښخه ووځی اود خپل ما موریت په موده کي د نورو اړینو سرچینو سره په تعا مل کي خپل هغه هد ف ته لاس رسی پیداکړی چی یی مخکی هغه په نښه کړی وی ؟

دریم: آیا هغه څوک چی غواړی دیو هیواد یا دیوی ټولني اولسمشر یا پیشوا وټاکل شی هغه دیو ښه اولسمشر کرکتر اواوصاف لری ؟

اویا داچی هغه دخپل کرکتر دښه کولو دپا ره چی دیورهبر داوصا فو اود معیارونوسره تقرب یانژدیوالی پیداکړی په هڅه اواند کی ولویږي اویا هغه د ټولنی د هغه نورو کسا نوسره کوم چی دلوړ شخصیت ، تقوی اودښیګڼو په اوصا فو باند ملبس وی د خپل اهدافو د پلی کولو د پاره دهغو سره ښه اړیکی برقرارولی شی یعنی دهغوی سره په ګډه اوپه پوره باورمندی خپل ماموریت دیو ښه رهبر په ښیر تر سره کولی شي .




Gandz, J., Crossan, M., Seijts, G., Stephenson, C. (2010). Leadership on Trial: a manifesto for leadership development. London, ON., Canada. Ivey Publishing. September 2010.

مونږ مخکی یا ده کړچی یورهبر یا اولسمشر ته ډیر اړین دي چي هغه دپوهی ، مها رت ، درک او د پوره قضاوت څیښتن وي، اودغه اړین مفا هیم با ید چي په څلورو وړتیا لرونکی یا صلاحیت لرونکي ګروپونوبا ندی وویشل شي کوم چی عبا رت دی له: ستراتیژیکی ، تجاری یا شغلی ،سازمانی او دخلکو له صلاحیت او شایستګی څخه . او په پورتنی انځور کی مو په نښه کړچی ددی ټولو شایستګیو زیربنا اوبنسټ په کلی بڼی سره عقل (intellect) تشکیلوي ( لمړی شکل یا انځور ته مراجعه وشی ).

مونږ همدارنګه مخکی چیری درهبرانودتعهد اود سرسپړدګي په مورد کي هم څه یا دونه کړی وه او هغه داچي رهبرانو کله چي دیولړ ستونزو سره مخامخ کیږي ایا دوی دی ته چمتودی چی دهغه پرابلمونو په وړاندی ودریږی اود خپل کاری ټیم پوا سطه سره د هغه پرابلم د حل لاری پیدا کړی اویا دا چی هغوی نور ددی توان نه لری چی داولسمشری دنده مخته ویسی او د رهبری د دندی د دروندوالی څخه ستړی شوی اوسی او پخبل خوښه شا ته لاړ شی اویا داچی په ډیر بی پروایی سره درهبری د مقام دامتیا زاتو په درلودو سره په عیش اوعشرت ځا ن بخت کړی ا و په ډیر بی تفاوتی سره دناوړی حالاتوپه موجودیت اوپه لا خرابیدو سره سره بیاهم ددغه بی تفا وت ژوند څخه لذ ت واخلی( لکه په افغانستان کی دغه موجوده رهبران چی دپردیو په مټ سره په واک کی پا تی دی او داوضاعو د لا خرابید و په جریا ن کی په پوره بیغمی اوبی تفاوتی سره په ډیر مدرن اولوکسوموټرونو ، دفترونو اوپه مجللو ما نړیو کی د خلکو څخه جدا پخپل پرازیتی عیش اوعشرت کی ژوند تیروي ) مونږ د لته په دغه مقا له کی غواړو چی خپل اندیښنه درهبرانو دکرکتر په توضیح اوتشریح کی متمرکز کړو اودا په دی لحاظ چی نه یواخي درهبرانو دکرکتر را څیړول مهم نه بریښی بلکه دهغه اهمیت د رهبرانو دشا یستګی اود تعهد په پرتله هم

ډیر اوچت اوپورته دی اوداځکه چي درهبری اود اولسمشری مقیاس ، ارزیابی اود هغه دودی تعریفول آسا نه نه دي ، دلته زمونږ پریکړه اوتمایل دادی چی د رهبری اویا داولسمشری دکرکترپه ټولو ابعا د و با ندی رڼا واچوو کوم چی نن ورخ حالات ډیر په چټکی سره دژوند په ټولو اړینو برخو کی (بی بندوبار تجارت یا اشتغالات ،چاپیریال ....) دتغیر اود تحول په حال کی دي .

## ولی په کرکتر پوري اړین مسا یل :

تا سي ممکن دی چي درهبری اود لیډ ر شفی ترعنوان لاندی په ډېرو کتابخا نو کی په سلونو اوزرونو کتابونه اورسالی مولیدلی وی اویا داچی تا سي شا ید ددی ډول کتابونو یوه زیا ت شمیر لوستلی وی اود رهبری په مفهموم باندی لازمه پوهاوی به مو تر لاسه کړی وي ، او ددی کتابونو د مطالعی څخه شاید چي مو درهبری دسبک اودستایل په برخه کی ځنی منل شوی معیارونو ته به موهم پام شوی وی کوم چی ځنی رهبران اویا هغو چی درهبری په دنده کی بخت دی په هغو کی د منل شوی معیارونو هیڅ نښی اونښانی ونه لیدل شي ، یعنی چی هغوی اصلاً درهبری صلاحیت اوشا یستګي و به نه لری اویا دا چی داسی رهبران به موهم لید لی وی چی د ځنو اړینو دلایلو پر بنیاد خپل کرکتر دلاسه ورکړی وی کوم چی دامکان څخه لیری هم نه دي . یا داچی دځنو دلایلو له مخی به مونږ پخپله د کرکتر مفهوم اومعنی له نظره غورځولی وی یا شا ید چی زمونږ تعلیمی اوسازما نی سیستم مونږ ته ښود لی وی چي درهبری پرکرکتر باندی ځان زیا ت متمرکز کړو اویا داچی مونږ شا ید درهبری پرکرکتر باندي اصلاً چند ان فکر ونکړو اومونږ ته درهبر کرکتریوډیر قدیمی اوله موده غورځول شوی کلمه اومفهوم وي اویا داچی ممکن مونږ کله ناکله دخپل کار په محل

کی دخپلو همکارانو او هم نظرانو سره درهبر د کرکتر په ا ړین تاوده بحثونه او مرکی تر سره کړی اوسی یا داچي شاید مونږ دی باورمندی ته رسیدلی اوسو چی اصلاً مونږ کی دا توان نه ترسترګو کیږی چی په عیني بڼی سره دیو رهبر کرکتر وڅیړو.

دویلو بل مهم مطلب دادی چی کرکتر (شخصیت) لا تراوسه درهبری یا دلیدرشفی کوم چي هغه دهرډول سازما ن ، ټولګی ، ټولني ، یا یوه هیواد او ...رهبریا مشر وی یو ځا نګړی او مرکزی عنصر شمیرل کیږي. اوبیا په خاصه توګه سره دهغو رهبرانو د پا ره کوم چي د پراخ بنسټه ټولنی یا د یو سرتا سری جها نشمول تجا رتی شرکت ، سازمان یا ... درهبری ډیر پیچلی دنده پر غاړه ولري، نو په دی وجهه کرکتر درهبری ډیر یومهم رکن تشکیلوی چی نه با ید دهغه سره سطحی برخورد وشی اویا له پامه وِغورځول شي اوداځکه چی کرکتر پخپله رهبری ته ستایل اوشکل ورکوی چی څرنګه باید دنړی پرچارو درګیر شي ، اویا دخپل چاپیریال پر وضع اوحالاتو باندی ځانګړی لړلید ولری یعنی هغه شی چی هغه وینی ، یاهغه شیان او موضوعات چی هغه ته دخپلی دندی په کا رونو کی قوت ورپه برخه کوي دبلی خوا څخه مونږ هم کله ناکله د خپلو همکا را نو سره درهبر دکرکتر اودهغه دارزشونو په اړین د کا ر په محل کی په تا وده جروبحث با ندی بخت کیږو اویا داچی وخت ناوخت درهبر د کرکتر په موضوع باندی څنی ځانګړی پریکړی کوو اویا داچي په دی باور باندی رسیږو چی څه باید وکړو . د لته مخکی له هغه چي درهبر کرکتر تعریف کړو لازم ګڼل کیږی چی دیو رهبر څنی ضعیفی نقطی ته په لاندی ډول سره اشا ره وکړو :

| شمیر | ضعیفی نقطی | تفصیل |
|---|---|---|
| ۱ | غیرمنطقی ډار | رهبر ممکن دډار له امله دروغ ووایي |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | ځان پوه ګڼل | دپوه مامورينو مخه نيسی |
| ۳ | غرور اوتکبر | هغه دغرور له امله تل يواځی پاتی کيږي |
| ۴ | بی ځايه بدګمانی | هغه ديو روانی ناروغ په څير پرخپل لاس لاندی مامورينو باندی بدګماني کوي |
| ۵ | ناوړه سلوک | ممکن دهغه هدف دنوروسره صميمت وی مګر هغه دخپل ناوړی سلوک په لرلوسره محبت دفع کوی |
| ۶ | د اوزړه ورتيا تظاهر | خآن خلکو ته بی ځايه زړه ور ښودل |
| ۷ | دنوروسره حسادت | حسادت درهبری يو له ډير منفی صفت څخه شميرل کی. |
| ۸ | ضعيف اخلاق | دغه صفت هغه نيستی ته وړی |
| ۹ | د مالی له نظره کنجوس | سپما يومنطق کړنه دی ام کنجوسی دهغه د پريکړي مخه نيسي |
| ۱۰ | نور احمق ګڼل | خپل لاس لاندی احمق ګڼل دهغه له حماقت حخه نمايندګی کوي |
| ۱۱ | بدجنسی اوناوړه نيت | په دی صفت سره نه پريږدی چی دهغه تر لاس لاندی مامورين خپل هدف ته ورسيږی |
| ۱۲ | غير منطق تلوار | دوخت په سپما کی بايد دقت وشی بيړه دشيطان کار دی |
| ۱۳ | په دنده کی کندي | هغه دکار اودڅوند دشيبو سره آشنايي نه لری او په سيالی کی بيرته پاتي کيږي |
| ۱۴ | بی ربط ګړيدل | هغو چی دروان شناسی سره بلد وی بی ربطی خبری نه کوی |
| ۱۵ | نا سم منش يا کرکتر | درهبر دشخصيت اجتناعی ابعاد هغه ته وسه ورکوی چی خلکو هغه ته درناوی وکړی |
| ۱۶ | بوالهوس | عياشی خواته وړل اوله خلکو څخه ليروالي |
| ۱۷ | باټ زن يا حراف | هوښيار رهبران زيات خبری نه کوي |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | خبروته غوږ نه نیول | ناکامه رهبران خبروته غوږ نه نیسی |
| ۱۹ | ناسپاس | دنورو پر خدماتو سترګي پټول |
| ۲۰ | بیځایه شرم | بیځایه حیا درهبر دکارونو مخه نیسي |
| ۲۱ | واسوا س | په کارونو کی غور لازم دی اما زیات دقت خپله واسواس مینځ ته راولي |
| ۲۲ | لجبازی | دا ډول کړنه دکوچنیانو کار وی نه دیو رهبر |
| ۲۳ | بی نظمی | درهبر بی کفایتی یو هم بی نظمی وی |
| ۲۴ | زیات نظم | در پخیله دناکامی عامل کڼل کیږي |
| ۲۵ | قهر اوخشم | دا یو ډیر ناوړی صفت دی |
| ۲۶ | تنبلی | دعیاش رهبر خصلت دی |
| ۲۷ | مفرطخونسردی | غیر فعال خون سردی دناکامی عامل |
| ۲۸ | دموکن توری | خلکو ته بیځایه ځان دموکرات ښودأ |
| ۲۹ | ددیکتاتوری تظاهر | دناتوانی دجبران دپاره دیکتاتوری کول |
| ۳۰ | بی تفاوت اوسیدل | یو بی تفاوت رهبر دخپل انسانی روابطو کی پاتیوالی لری |
| ۳۱ | خپل ځان ته پام نه کول | یو پوه رهبر ځا تنه هم پام اړوي |
| ۳۲ | خپل خبری دنورو له ادرسه کول | یوه پوه رهبر هیڅکله خپل نظر دنورو په نوم نه بیانوی |
| ۳۳ | دګاونډی چرګی ته قازویل | دیو باتدبیر رهبر ښه صفت دادی دی چی دپدبدو څخه ښه ارزیابی تر لاسه کوی |
| ۳۴ | دروغ اودوه مخی | یو ښه رهبر تل ریښتیا وی |

# دکرکتر تعریف

دکرکتر «شخصیت» دتعریف په هکله لا تر اوسه کوم ځانګړی اجماع یا اتفا ق نظرپه لاس کی نشته ، لاکن د ځنو پوهانو اوڅیړونکو دلیکونواود تحقیقا تو څخه داسی را ښرګند شوی چی هغوی د کرکتر په اړین مختلف تعاریفا ت تر سره کړی دی .چی د هغو تعریفا تو له جملی څخه د لته دکرکتر په اړین دوه لاند نی تعریف په ذکر رسوو:

۱- شخصیت دیو شخص دروحی «روانی» او د اخلاقی عاداتو یا د خصایلو له مجموعی څخه عبارت دي.

۲- داسی ویل کیږی چی کرکتر دیو شخص د متما یزا وثا بتو کیفیاتو څخه عبارت دی چی دهغه په ژوند کی جوړیږ بی له هغه چی شخص دهغه په وړاندی کوم روښانه ځواب ولری .

په هرصورت د لته زه غواړم چی په دی بحث کی خیل اند یښنه د شخصیت (personality) پر اوصا فو ، ارزښتونو او فضا یلو باندی متمرکزکړم اما یوه بله مهمه موضوع چی دلته زمایه ذهن کی را وچت شو هغه دادی چی زه باید مخکی له هر څه نه د کرکتر اود پرسونالټی «شخصیت» ترمینځ پرتفاوت با ند ي ځان تم کړم اوداځکه چی کرکتر او پرسونالټی دواړه په لغوی معنی سره د«شخصیت » معنی ورکوی .

کرکتر«شخصیت» دعاداتو ، خصایلو اود یو شخص د سلوک یا دررفتا رله مجموعی څخه عبارت دي چی د هغه پر بنیا د دیو شخص شخصیت ښودل کیږی اوهغه په دی معنی چی دغه شخص څه ډول شخص دي .اوهم داسی په ګوته کوی چی آیا دغه شخص په ډیر موثر بڼی سره دخپل ژوند ټاکلی اهدافو ته رسیدلی شی ؟ یعنی هغو اهدافو ته کوم چی په برخورد سره نورو ته نه داچي ټاوا ن ورسوی بلکه دقانون اودمنل شوی مقرراتو په چو کاټ کی په منظم بڼی سره اطاعت تر سره کړی .

دپورتنیو یادونو په نظر کی نیولو سره ګرچه کرکتر ،پرسونالیټی

پوری تعلق نیسی مگر د مضمون اومحتوی له کبله سره ډیر فرق لری چی دهغو تفاوت داسی توضیح کیږی :
personality (شخصیت)مخکی له هرڅه څخه له ذاتی (inborn) اوصا فو څخه عبارت دی یعنی یو طبعی استعداد او پا نګه دی حا ل داچی کرکتر (شخصیت) له هغو صفا تو څخه عبارت دی چی دشخص پواسطه سره د ژوند په سیر کی را مینځته کیږی یعنی یو ډول کسبی صفا ت دی چی دژوند په اوږدو کی زده کیږی . دبلی خوا څخه دغه دواړه مفاهیم ( کرکتر او پرسونا لیټی ) د شرایطو اود حالاتو په نظر کی نیولو سره زیا ت فرق کوی .
دلته ممکن تا سو ته له سره داسی سوالونه را پیداشي :
* پرسونالیتی یعنی څه ؟
*کرکتر له پرسونالیټی ححه څه فرق لری ؟
* څرنګه دیوشخص کرکتر داوضاعو او دحالاتو په بدلون سره تغیر خوری ؟
ددی پورتنیو سوالونوځوا ب په دی لاندنی لوست کی توضیح کیږی ::
داسی په نظرراځی یا داچي همدغسی دی او هغه داچی خلک په طبعی بڼی سره دځا نګړی شخصی اوشخصیتی عاداتو او تما یلاتو سره له موره زیږی ، ځنی محجوب ، ډارن ، شرموندوکی او ځنی نورو بیا بی باک ، زړه ور او په فکری لحاظ سره حراف (لافجن) ،مشر اودیو تحلیل ګر اومفسر په بنه په ټولنه کی تر سترګو کیږی چی دغه ټول عا دات اوصفا ت هغه ته په ا رثی بڼي تر لاسه شوی وی .
د شخصیت اویا دمنش د طبقه بندی یا په ګروپوسره ویشل آ سا نه او معمول لاره دادي چي ایا تا سی پخپله خود بین (درونګرا) اویا دخپل نه دبا ندی (بیرونګرا )ګوری یا داچی تا سی غواړی چي د خپل ځان سره اووسی او یا داچي تر یو زیا ت حده له خپل ځا نه دبا ندی یا ستي ، د شخصیت (پرسونالټی) یوبله طبقه بندی په دی ډول دی

اوهغه دا چي ایا تا سی دیر زیا ت خپل دندی ته تمایل لری اویا داچی اجتماعی مصروفیتونو ته زیات ترجیح ورکوي . د دغه ډول عا دا تو اغیزه په یو شخص کی ممکن دی چي ډ یر متبا رز وی اویا د هغه د شخصیت سره همغاړیتوب ولری .

په یا د موبا ید وی چی د شخصیت دغه پورتنی طبقه بندی د شخصیت د نوروزیا تو طبقه بند یو له جملی څخه یو ډول طبقه بندی شمیرل کیږی .

کرکتر(character) : مونږ مخکی ویلی وه چی کرکتر کسبی وصف لری اومعمولاٌ له مورروپلار ، ښونکو اود دوستا نو څخه زده کیږی دغه زده کړي ممکن مستقمیاٌ له فکر کولو اویا دمشاهداتو په نتیجه کی ترلاسه شی کوم چی دا پخپله یعنی شخصیت (کرکتر) د شخص په لړلید ا وارزښتونو پوری تعلق نیسي .

د یا دونی ډیر مهم ټکي دلته دا دی اوهغه داچی هیڅ یوشی دومره ناوړه نه بریښی لکه چي یو څوک ډیر بی انصا ف او بی اعتبا ر پرسونالتی (شخصیت) ولری ، صداقت او ریښتینولی د کرکتر یوله مثبتو اوصا فو ، اما منا فقت اوبی اعتباری دکرکتر له منفی اوصا فو څخه شمیرل کیږي اما کله داسی شخصیتونه هم تر سترګو کیږی چی د قانون اود مقرارتو له چوکاټ څخه وځی یعنی یو سرکش شخصیت لری چی دا پخپله دیوی ټا کلی مودی د پاره په ځوانانو کی لیدل کیږی اودزمان په تیریدوسره دغه صفت دهغوی له شخصیت څخه ورو ورو خپل لمن ټولوی.

سره له دی چی تا سی آیا یو خودبین (درونګرا) یا له خپل ځا نه څخه بیرون بین( بیرون نګرا) اوصا ف لری دا دتا سی دشخصیت یاکرکتر علاقمندی د تا سی دکړه وړه (attitude) پوری کوم چی تاسی دنورو سره په معامله اوراکړی ورکړی سره دخپل ټاکلی کلچر اوقوانینو په چو کاټ کی اړیکی ټینګویی او پر اړینو مسایلو باندی قضاوت ترسره

كوي  داهغه څه دى چى د ستا سو د شخصيت څخه استاذيتوب كوى  .
دكركتر (شخصيت) بد لون : سره له  دى چى كركتر يوكوچنى ته ور زده كيږى  اما كيداشى چى  دغه  زده كړل شوى كركتر متفاوت او د شرايطو او تجا ربو په نظر كى نيولو سره  تغير وخورى .
دبيلگى په توګه :  يوسړى چى پخپل دند و كى  د حوصيلى ځبنتن ځا ن ښكاره كوى  ممكن دى چى هغه تا سى ته د راكړى وركړى په پروسه كى  په غير مستقيم بنى سره يوصا د ق او با انصا ف سړى  در وښيى يعنى چي هغه  د معا ملى په وخت كى  غواړى  چي  پخپل  كركتر كى ديو ډول ښه  شخصيت  نمونه  ښكاره كړى ترڅو چى دتا سى  اعتما د را جلب كړى .
 يوسړى د شرير ،بى انصا ف اود بى اعتبارمورو پلارڅخه زيږيد لى ، اكثراً  غير ممكن بريښى چى جرم وجنايت  وشى كړى چى دهغه  په شخصيت كى بدلون راوړى اوهغه په ټولنه كى ديو ښه اوصا دق سړى په  خيرراښكاره شي  اويا داچي  كيداى شى چى شخص  پخپل  مذهب او نظريا تو كى دحالاتو په نظركى نيولو سره داسى تغيرات رامينځته كړى كوم چى دمنلو وړ وى اويا دمنلو وړ نه وى ، چى بياهم دغه ټول كړنى دهغه په شخصيت پورى تړلى وي .
 د پرسو ناليټى (شخصيت) دتعريفا تو په نظر كى نيولو سره  كوم چى مو  پورته په مفصل ډول  پرهغه با ندي  يو څه تم شولو ، د لته  لازم بولم  چى د پرسوناليټى  پر صفا تو ، ارزښتونو  اوفضا يلو با ند ي  يو څه رڼا واچوو :
لمړى : د پرسوناليټى اوصا ف : د  پرسونا ليټى  اوصا ف  د تل دپاره ديو  نمونى  اود سرمشق  په خير ديو شخص يا د افرادو  د طرز تفكر ، سلوک  اوداحسا سا تود مجموعى په مفهوم  سره تعريف شوى دي ، او داسى په  نظر رسي چى دغه  پورتنى  مفاهيم  په  اشخا صو اوافرادو كى دژوندانه په اوږدو اوپه  هرډول  شرايطو كى  نسبتاً  ثابت

پاتي کيږی .

اما دا موباید هیر نشی چی اوصا ف (traits) په اشخاصو اوافرادو کی ثابت نه وی یعنی ټیکا و نه لری . دمثال په ډول : هغو اشخا صو کوم چی خود بینا ن (درونګرایان «introverts » ) دی ممکن دوی ددی توان اواستعداد ولری چی ځرنګه کولای شی دا زده کړی چی دخپل درونګرایا نه اوصا فوکی یوڅه کمی راوړی یا داچی بیرون ګرایا ن (extroverts) ځرنګه کولای شی زده کړه کړی چی د خپل د بیرون ګرایی (extroverts) پرصفا تو با ندي د کنترول کولو لاس دشرایطو د ضرورت په نظر کی نیولو سره پیداکړي .

د سیکا لوژی په اد بیاتو کی دپرسونالیټی د کلمی ریښتیا نی مفهوم او په ا شخاصو کی دپرسونالیټی اوصا ف په سلګونو ډولونو له A (جاه طلبی) څخه بیا ترZ (تعصب) پوری تشریح او توضیح شوی دي، دبلی خوا څخه دعلمی څیړنیزاوتحقیقی روشونو په مرسته سره دشخصیت (پرسونالیټی) پنځه رغنده برخی یا ابعاد دمحققا نوله خوامنل شوی دی کوم چی د همدی پنځه ا بعا دو په نظر کی نیولو سره په اوسنی وخت کی دکا رګرانو اود مستخد یمینو په استخدامولوکی وسیعاً په نظر کی نیول کیږی چی دپرسونالیټی دغه پنځه ګونی اوصا ف عبارت دی له :

۱- دوجدان څیښتن (conscientiousness) .

۲-د تجربودلرلوپه اړه روښانه دریځ(openness to experience).

۳- له خپل ځا ن نه دباندی کتل(Extroversion).

۴- د نظر توافق (Agreeableness) او

۵- په قهرید ل یا عصبا نیت (Neuroticism).

دمستخد یمینوپه استخدامولو کی دغه پنځه منل شوی اوصا ف چی د (FFM) یا د مودل پنځه عامل په نامه سره یا د شوی دیو ازموینی په بڼه سره له هغو څخه پوښتنه کیږي ،سره دهغه چی دغه پنځه متبارز

اورغنده اوصا ف د پرسونالیتی په ا د بیا تو کی منل شوی کراتیریا یا اوصا ف دی لاکن دپرسونالیټی په پیژندنه اوشناخت کی ځنی نور اوصاف هم دملاحظی وړ بلل کیږی کوم چی دغه اوصا ف عبا رت دی له : اعتماد پر نفس ، جاه طلبی ، مطلق گرايي ، ثابت سنتی گرا (کهنه پرستي ) ، تفوق طلبی ، تعصب او داسی نور .

دپرسونالیټی ځنی اوصا ف ذاتی اوطبعی بڼه لری دبیلگی په توگه : دځیږنوڅخه داسی را څرگند شوی دی چی په یو کټ مټ غبرگون نوی زیږید لی ما شوما نو( هغه غبرگون نوی زیږید لی ماشومان چی دیو سپرم «دپلار تخم » څخه دمور په رحم کی سره په دوه بیل ورته رشیم وده کړی وی) کی دهغوی ژینونه سره ورته اومشابه دی چی په همدی دلیل سره د هغوی اوصا ف هم سره کټ مټوالی لری نظر وهغو نوی غبرگون ما شومانوـ( ناهمگون ) ته کوم چی د خپل پلار د بیل بیل تخمونو یا سپرم څخه دخپل مور په رحم کی وده کړی وی . دبلی خوا څخه باید هیره نکړو چی دپرسونا لیټی اوصا ف د تجربو په غنا اود تمرینا تو په وده اوتکامل سره هم پرمختگ کولای شي .

دو هم – دپرسونالیټی ارزښتونه: دپرسونا لیټي ارزښتونه هغه څه دی کوم چی خلکو په دی باور وی چی دهغوی دپا ره څه شي ډير مهم اوبا ارزښت ښکاری ، همدا با وری ارزښتونه دی کوم چي د شخص یا د افرادو په سلوک او رفتا ر با ندي خپل تا ثیر غورځوی او افراد د ښه سلوک د پلی کولو د پا ره تر خپل حده پوری هڅه اواند کوي چی پخپل کاروبا ر اود نورو خلکو سره په روابطو کی د ښه سلوک څخه کار واخلي . نو که چیری هغه د خپل هڅی اواند په پایله کی د خپل خوښی ارزش تر لاسه کړي کوم چی د هغه سلوک په مرسته سره خپل تا کلی هد ف ته ورسیږی نو بیا په دی اصل با ندي دهغی با ور زیاتیږی چی ارزښتونه په واقیعت کی د شخص دسلوک اورفتار دیو لارښود په توگه خپل تاثیرا غورځوي .

په پرسو نا لیتی کی ځنی ارزښتونه په ډیره غټه پیما نی سره خپل اسقلا لیت سا تی ، ځنی ارزښتونه داجتماعی تعا مل برخی تشکیلوی خنی ارزښتونه د خلاقیت فرصتونه په لاس کی ورکوی ، اوبیا ځنی ارزښتونه دژوند په تعادل اوبیلانس کی خپل تاثیرغورځوي اوپه همدی شان سره .

دامو باید په یا د وساتو چي دپرسونالیتی ځنی ارزښتونه د ژوندانه د مراحلو په بد لون اودځان ګړی شرایطو په مینځ راتلو سره هم بد لون مومی ، نو ددی پورتنی یا دونو څخه دی پایلی ته رسیږو چی ریښتیانی سلوک یا رفتا رله هغه مجموعی څخه عبارت دی چی دهغی سره اړین خلکو په منصفانه بنی ( دوخت اودشرایطو په نظر کی نیولو سره ) سره په توافق کی ولویږي اوپه دی وجهی سره دوستان ، همکاران او ناظران داسی څرګندونه کوي چی دغه ټول رفتار اوروش شاید چی د اجتماعی انتظاراتو دبدلون پا یلی وي .

دریم : دپرسونالیتی تقوی اوفضا یل : دیوی تولنی یا دیو هیواد اولسمشر باید چی د لاندنی لسګونو فضایلو څښتن اووسی .

اول : تواضع او فروتنی (Humility)

دوهم- ایمانداری (integrity)

دریم : لاسورکړه(collaboration)

څلورم : انصاف او قضاوت (justice)

پنځم- زړورتیا (courge)

شپږم: اعتدال(temperance)

اووم- مسولیت پذیری (accountablity)

اتم – سړیتوب (humanity)

نهم- برتری یا تفوق (transcendence)

لسم : تمیز اوقضاوت (judgment)

یا دونه : د دی دپاره چی یو اولسمشر خپل سپیڅلی دندی سرته ورسوی اودخپل وجدان او دټولنی په مقابل کی ځان تیت ونه بولی باید چي دپورتنیو اوصافو څښتن اووسی ، دبلی خوا څخه دا مو هم باید په یاد کی وی چی یواولسمشر دپوهاوی ، ابتکار اود تحصلاتو له مخی د نور څخه باید تفوق او برتری ولری ، ثروت ، نا پوه اطرافیان او غوړمالان په هیڅ بڼی سره یو بی شخصیت رهبرته (شخصیت) اوپرسونالیټی نه ورکوی اوهغه تل درهبری په دندو کی ناکام اودتاریخ په وړاندی مخ تور اودهغه متعلقین دتل د پاره خپل وجدان ته ګرم او خجل اوسی خصوصاً هغو چی دخلکو سره نا سم چلند کړی وی .

----------------------------- په درناوی


ریفرینسونه :

١- داحسان طبری فلسفی یا دا شتونه .

introduction to socialogy - 2

Leadership competences , character and commitment 3

۴ دپزوهشګرا نو سا یت .